ژباړه: حبيب وقار ۲۷/۱/۲۰۱۰
سرچينه: رويال برېټيش لزيون لندن

# افغان جګړه تر دويمې نړيوالې جګړې سخته ده

د برېټانيا د وسله والو ځواکونو د چارو مسؤل باب ايسورت ويلي دي : "نن ورځ په افغانستان کې د برتانويانو لپاره جګړه د دويمي نړيوالي جګړه په ډول ده."

د افغانستان د جګړې ستونزې او کړاوونه د دې لامل شوي څو د افغان جګړې ځينې ګډونوال په دې ورځو کې خپله ناتواني او عجز څرګند کړي. پرلپسې ماتې او ناکامی چې يوازې طالبان ګټونکي دي. تر دې چې څه موده وړاندې د نورستان د سقوط خبرهم خپور شو د دې لامل شوي څو د برتانيې يو لوړپوړی چارواکی د افغانستان جګړه له دويمي نړيوالي جګړې سره پرتله کړي.



د برتانيې د وسله والو ځواکونو مسؤل مخکې له رسنيو سره ويلي : "چې نن ورځ د برتانويانو لپاره افغان جګړه د دويمي نړيوالي جګړې په ډول سخته تماميږي.

باب ايسورت همدا راز په هغه مقاله کې چې د رويال بريټش لزبون مجله کې ليکلي : "خلك بايد په دې کې شك او ترديد ونه لري، چې هغه اقدامات چې نن ورځ يې برتانويان د هلمند په ولايت کې لري او هغه فعاليتونه چې په عراق کې يې لرل، داسې ستونزمن اقدامات دي چې برتانيه نن ورسره لاس او ګرېوان ده."

ډيلي ټلګراف ورځپاڼې د نوموړې مقالې په اړه ويلي : "موږ په دويمه نړيواله جګړه کې د خپل ملي پاينټ لپاره شتون درلود. د هلمند په ولايت کې د برتانوي سرتېرو شپږ مياشتې اوسېدل او دې جګړه ييزې سيمې ته يې د دويم ځل لپاره استول، همغه اقدامات دي چې تېرو نسلونو د برتانيې په پوځ کې ترسره کړي دي."

د دې چارواکي په مقاله کې راغلي دي : " يو تيت پوری نظامي کېدای شي، بنه او يا بد کار ترسره کړي، خو دا کار يې په هېڅ توګه د برتانيې د لوړ پوړو چارواکو نظر نه دی."

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.